**Kommunales Integrationszentrum Kreis Wesel**



# Kreis Wesel په ښوونځی کښې

د نوو مهاجر کوچنیانو او ځوانانو د ثبت نام مشوره

Paschto

## ستاسو ملګری ستاسو په منطقه کښې


**Kreis Wesel – Der Landrat**
FD 40-2 Schulverwaltung und
Regionale Bildungsberatung
Kommunales Integrationszentrum (KI)
Reeser Landstraße 31
46483 Wesel

KREIS WESEL

Telefon 0281 207 - 4242
Fax 0281 207 - 674240
E-Mail students-welcome@kreis-wesel.de







GPS-Code: 51° 39‘ 53.9“ N 6° 36‘ 30.2“ E

د عام د ټرانسپورټ وسیله:
په ریل ګاډی ۴۲۰ او ۴۲۱ تر Wesel Bahnhof پوری
د Wesel Bahnhof څخه په سرویس ۶۳، ۶۴ و ۸۶ تر "Arbeitsamt" پوری.


Gefördert durch:
Ministerium für Schule und Bildung des Landes Nordrhein-Westfalen
Ministerium für Kinder, Familie, Flüchtlinge und Integration des Landes Nordrhein-Westfalen



Piktogramme: © Stadt Köln


## د ضروری شیانو لست

مهربانی وکړی دغه اسناد د ځانه سره راوړی:

- ☐ تذکره، شناخت کارډ
- ☐ د ثبت احوال سند
- ☐ شهادنامې
- ☐ دسرپرستی سند

مهربانی وکړی وخت واخلی!

که کیدایي سی نو د خپل اعتماد یو نفر چه په جرمنی ژبه پوهیری د ځان سره راولی.



**د ملاقات وخت:**

| | |
|---|---|
| دوشنبه او سه شنبه | د ۹:۰۰ څخه تر ۱۲:۰۰ بجو |
| پنجشنبه | د ۱۴:۰۰ څخه تر ۱۶:۰۰ بجو پوری |

همدغسي پر ټاکلی وخت باندي

**د ملاقات وخت په رخصتی کښې:**

یوازي پر ټاکلی وخت باندي.

ګرانو مندو او پلرونو، ګرانو سرپرستانو، ګرانو کوچنیانو او ځوانانو!

په Nordrhein-Westfalen کښې د ۶ څخه تر ۱۸ کلن پورې ټوله کوچنیانو او ځوانان و ښوونځی ته ځي ولي چه دغه ددوی وظیفه او ددوی حق دی.

د ویزل د حوزې محلی یوکیدلو مرکز و تولو کوچنیانو او ځوانانو ته چه نوی و جرمنی ته راغلي دی او ددوی و مندو او پلرونو او هغو کسانو ته چه سرپرستان دی شخصی معلومات او و ښوونځی ته د داخلیدو په باره کښي مشوره ورکوی.

تجربه کار معلمین په انفرادی ډول او ضروری مشوره په لاندنی موضوعاتو کښي ورکوی:

- د Nordrhein-Westfalen د تعلیم او تربیې سستم
- ښوونځی او د ښوونی سهولتونه په Kreis Wesel کښي
- د تربیت حال او د زده کړني د دورې تدبیر
- د مناسب ډول ښوونځی پیشنهاد
- د ښوونځی د وړ کیډلو معاینات
- د نورو ژبو زده کوولو تشویق او د خپلي ژبې تدریس
- د شهادنامو قبولول
- و نورو مشورې مرکزونو ته لیږل
- د انترنیت په ذریعه جرمنی زده کول
- تعلیمی او ونده اخیستلو بنډلونه (لکه چه د جرمنی ژبې لپاره اضافی مرسته)
- په اجتماعی ډول یوکیدل په فرهنګی او سپورتی فعالیتونو د پیشنهادونو په لار

## د مشورې د خبرو جریان

مهربانی وکړی تلفون وکړی د مشورې د پاره وخت واخلی:



۰۲ ۸۱ / ۲ ۰۷-۴۲ ۴۲

مهربانی وکړی د مشورې د خبرو د پاره خپل کوچنیان د ځان سره راولی او ضروری اسناد هم راوړی (دضروری شیانو لست وګوری):






که کیدایې سی نو د خپل اعتماد یو نفر چه په جرمنی ژبه پوهیږی د ځان سره راولی:




© wmiami - Fotolia.com

## د کار جریان تر ثبت نام پورې

د یوکیدلو محلی مرکز ستاسو کوچنیان و ښوونځی ته د داخلیدو د ورتیا د معاینې د پاره د صحت و اداری ته معرفی کوی:




د صحت اداره به ستاسو سره تماس ونیسی او د معاینې وخت به درکړی:



د حوزې محلی یوکیدلو مرکز ستاسو د اولادونو لپاره په ښوونځی کښي ځای موندی:




د یوکیدلو محلی مرکز به ستاسو ته معلومات درکړی چه په کومه ښوونځی کښي کولایي سی د خپل کوچنیانو ثبت نام وکړی.





وخت مو ښه او په ښوونځی کښي بریالی سی!

